# ښه حکومتوالي

## ښه حکومتوالي – د ډموکراټیک دولتوالي کلي

د *ښې حکومتولی* د لومړیتوب په ډګر کې اقدامونه په افغانستان کې د حکومتي ادارو د ظرفیت د پراختیا او د سیاسي پریکړو په لړیو کې د لاپېر شمیر خلکو د شاملولو په موخه ترسره کیږي. په دغو اقدامونو کې د قانون د واکمنۍ ودې، د ښځو د حقونو غښتلي کولو، د اداري فساد سره مبارزې او د اداري جوړښتونو پراخولو ته خاص پام اړول کیږي.

د حکومت نه د افغانستان د خلکو د عمده هیلو څخه یو هیله داده چې د قانون د واکمنۍ اصولو ته غاړه کیږدي. له دې امله، د المان حکومت هڅه کوی چې د افغانستان د اتباعو حقوقي خویندیتوب ټینګ کړي. د دې موخې لپاره، دا حکومت د قانون څخه د خلکو د پوهاوي د کچې د لوړولو د اقدامونو څخه ملاتړ کوی، هغو ته حقوقي مرسته وړاندې کوي، او عملي لاربښوونې او زده کړې برابروي تر څو د حقوقي محصلینو زده کړې ته سمون ورکړي. برسیره پردې، د المان حکومت د افغان حکومت څخه د اداري فساد سره په مبارزه کې مرسته کوي، دا یوه داسې ستونزه ده چې د کان ایستنې په سکتور کې په ځانګړې توګه څرګنده ده، چیرته چې په زیاته کچه دولتي عواید اوس اوس د غیرقانوني کړنو او د شفافیت د نه شتون له کبله له لاسه وزي.

د المان حکومت د افغانستان د بیارغونې د ایمني وجهي صندوق (ARTF) له لیارې چې د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي، د افغانستان د حکومتي ادارو د ظرفیتونو د پراختیا سره هم مرسته کوي. برسیره پردې، په ټاکل شویو ولسوالیو کې د ولایتي ادارو د توانونو د مدیریت او همغږۍ د سمونتیا د لارو په هکله والیانو او مدیرانو ته سلامشوره ورکول کیږي. د دې کار موخه داده چې په دې کچه اغیزمنه او ځواب ورکوونکي حکومتي اداري منځته راشي چې وکولای شي پراختیایي پروژې او پروګرامونه په خپلواکه توګه طرحه او پلي کړي. برسیره پردې، د عامه پلاتفورمونو ترویجول لکه د خلکو د ډیالوګ او سلامشورې غونډې په سیاسي لړیو کې د هغو برخه اخیستنه هڅوي او په دې توګه د دولت په نسبت د هغو باور زیاتوي.

د المان حکومت همدارنګه نوموړې موخې د مدني ټولنې د سازمانونو سره د نږدې همکارۍ له لارې تعقیبوي چې باید په زیاتیدونکي توګه په سیاسي لړیو کې ښکیل شي او د دې توان ورکړل شي چې د دولتي نهادونو څخه رونتوب وغواړي.

## د پروژې خبرونه

- توحید سیستم آموزشی حقوقی: سکتور عدلی در نظر دارد دوره استاژ حقوقی را ترکیب کند (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4843) 17.11.1398 | خبرپاڼه
- په کندهار ولایت کې د کان کیندنې ولایتي مفتشینو لپاره د کان کیندنې روزنه (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4796) 09.11.1398 | خبرپاڼه
- د حقوقي پوهاوي د یو والي لاړمنول: حقوقي پوهاوي په اړه کنفرانس په بدخشان کې دایر شو (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/4643) 27.09.1398 | خبرپاڼه

## اضافي معلومات

- Fact sheet: Legal Certainty for all Citizens (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-ROL-d-Pashto.pdf)
- Fact sheet: Reforms for an Effective and Trustworthy State (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-Opaf-d-7_Pashto.pdf)
- Datenblatt: Staatliche Organe als Stützpfeiler der Gesellschaft

د ښې حکومتولۍ د لومړیتوب په ډګر کې زموږ د کار په باب د لاډیرو معلوماتو د پاره مهرباني وکړئ د پروژو د توضیحاتو او د «کیسو» برخې ته مراجعه وکړئ.

## زموږ کار پدې برخه کې

**د ټولو ښاریانو دپاره حقوقی مصونیت**

د ۱۳۸۱ کال را پدې خوا د المان فدرال حکومت د هالند او فنلند سره یوځای د افغانستان ملاتړ کوي چې یو اغیزمن دولتی عدلي سیستم منځته راوړي. که څه هم په دې لاره کې ښه پرمختګونه شویدی، خو بیا هم یو لړ سمونتیاوو ته اړه شته تر څو د ښاریانو دپاره د قانون حاکمیت هم په ښاري سیمو کې او هم په کلیو کې تضمین شي. (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1778)

**د یوه اغیزمن او باوري دولت دپاره اصلاحات**

د دولتي ادارو د اغیزمن کولو او د اداري فساد د مخنیوي په موخه، د المان فدرال حکومت په افغانستان کې د اصلاحاتو د لړیو څخه ملاتړ کوي او په دې لاره کې مسلکي کارپوهان د افغانستان نهادونو ته ورکوي. له دې ملاتړ څخه نه یوازې افغاني مسلکي کارکوونکي بلکه د هیواد ښاریان هم ګټه پورته کوي. (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1776)

**دولتی ارګانونه د ټولنې د استنادي ستنو په توګه**

د دې لپاره چې په دولتي ادارو باندې د افغانستان د خلکو باورتیا غښتلې شي، د المان فدرال حکومت د دولتي جوړښتونو د پراختیا او مسلکي کارکوونکو د روزنې څخه په ځانګړې توګه د هیواد په کلیوالي سیمو کې ملاتړ کوي. (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1771)

**د پراختیا شفافه طرحه کول او پلي کول**

په افغانستان کې ولایتي اداري دنده لري چې د خلکو دپاره بیخبنا او عامه خدمتونو ته لاسرسی تامین کړي. د المان فدرال حکومت د دغو ادارو څخه ملاتړ کوي چې د افغانستان په شمال کې بیخبنایي ګام اخیستنه پلې کړي، د کارونو لړۍ د پلان سره سم طرحه کړي او هغه په یوازې او ښه توګه ترسره کړي. په دې ډول دا حکومت مرسته کوي چې د افغانستان د خلکو ټولنیز-اقتصادي پراختیا وده وکړي. (https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1768)

**د بیارغونې د ایمني وجهي صندوق له لارې پرمختګ**

د المان فدرال جمهوري د افغانستان د بیارغونې دپاره د ایمني وجهي صندوق یو تر ټولو لویو مرستندویو هیوادونو څخه ګڼل کیږي. د دې صندوق مالي حجم چې د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي په ۲۰۱۸ کال کې د آلمان ونډه ۶۵ میلیونو یورو ته رسیده او اوس مهال یو لړ پراختیایي ګام اخیستنه له دې لارې تمویلیږي. مالي منجمنت د دولتي بودجې له خوا صورت مومي او د افغان حکومت سره مرسته کوي

(https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-RCD-GER_0.pdf)

- Fact sheet: Public Authorities as Pillars of Society (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-RCD-d-7_Pashto_0.pdf)
- Fact sheet: Transparently Planning and Implementing Development MeasuresIn Afghanistan (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-RIDF-d-7_Pashto.pdf)
- Fact sheet:Progress Achieved through the Afghanistan Reconstruction Trust Fund (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-ARTF-d-7_Pashto_0.pdf)
- Fact sheet: Sustainable Mining for Economic Growth (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-MinGov-d-7_Pashto.pdf)
- Fact Sheet: Youth for Peace (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-ZFD-d-Pashto.pdf)

چې مالي وجهې په شفافه توګه اداره کړي، خپل عواید منځته راوړي او مالي وجهې د هغو ملي لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره وکاروي چې تر ټولو زیات پراختیایي اړخ ولري.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1763)

**د اقتصادي ودې په موخه د کانونو دوامداره ایستنه**

په افغانستان کې د کان ایستنې سکتور یو ډېر ستر اقتصادي پوتنسیال دی چې کولای شي د هیواد پرمختګ ډېر زیات کړي. د دغه سکتور د بشپړ کارونې په موخه د المان فدرال حکومت د افغانستان د اړونده مراجعو څخه ملاتړ کوي چې په اوږدمهال کې کان ایستنه د نوښتونو د هڅولو او د شفافیت په رواجولو سره ترسره کړي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1766)

**د سولې دپاره ځوانان**

د دې لپاره چې د افغانستان د ټولنې سوله ایزه وده تامین شي، داسې ټولنه چې د خلکو د پاره راتلونکي لرلیدونه پرانیزي، د المان فدرال حکومت په افغانستان کې د سولې د ملکي خدمتونو څخه ملاتړ کوي تر څو په هیواد کې اوسنی تاوتریخوالی له منځه ولاړشي.
(https://www.ez-afghanistan.de/ps/news/1761)